آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۳۰

# لارورکي لارويان

## اوومه برخه

## کوردننه مهاجرتونه او نوی ستونزې

### د مزار پر لور:

په کابل کې حالات نورهم په خرابېدو وو. ما خپل بچیان، میرمن، ورېندار او د هغې درې اولادونه ځان سره کړل او د مزار پر لوري د دې په تمه وخوځېدو چې که ویزه پیدا کړو او له وطن څخه و وزو. تول د یوه سرویس په سورلی، د مزار پر لوري وخوځېدو.
دا وخت هیواد په څو هیوادونو وېشل شوی و. هر هیواد ته چې ننوتو، نوې خلک او نوی قانون و، نوې پوښتنې او نوی چلند. د هر تنظیم ټوپکیانو د خپل تنظیم له دساتیرو او شخصي غوښتنو سره سم چلند کاوه.
د استالف سیمې ته په رسیدو سره د څویم ځل له پاره موټر ودرول شو. په دې وخت کې زما وړوکې وریرې ما ته و ویل:
کاکا تشناب ته ځم. ما په عاجزانه لهجه ډریور ته و ویل چې زه دا ماشوم تشناب ته بیایم، خو هغه په ډېره قهرجنه ژبه را ته و ویل:
«او بیادر امي وخت تشناب رفتن اس؟»
وروسته پوه شوم چې دا د ګلبدین جان؟ د ټوپکیانو پوسته وه، ډریور او اکثره سورلی یا د شمال ټلوالي خلک وو او یا پنجشیریان وو، چې د حزب اسلامي خلک ورپسې ګرځیدل. له پوستې څخه یو تن ټوپکوال موټر ته را وخوت، د خلکو مخونو ته یې کتل او له ځان سره یې ویل:
«ما اخواني هستیم، که یک قدم از اخوانیت خود تیر نمي شیم. اخ اګه ده ګیرم آمدي، مي خورمت او...»
ټوپکې په غومبیدو، غومبیدو ښکته شو، د موټر ډریور او نګران ما ته مخ را واړاوه، ویل یې:
«ده قارخدا شوي، کم بود که ماره ده توپ بسته کني...»
په موټر کې د تیلو د بد بوی په وجه زما وریرې په کانګو پیل وکړ او ما له داره ډریور ته د تم کیدو نه شول ویلای او د ماشومي خولې ته مې پلاستیکي خلطه نیولې وه چې نورخلک او موټر ککړ نه کړي. بیا مو تر مزار پورې همدا حال و، پوښتنې او پوښتنې.
دا وخت په مزارکې بیا بله دنیا جوړه وه. دوستم او دوستمیانو پر هر څه حکم چلاوه. ځینو خوش باوره خلکو لا مزار ته د دوستم له برکته، د امن کلا ویله. ډیری فرهنګیان او د کابل پوهنتون استادان، د تنظیمي وحشت له اور نه د خلاصیدو په خاطر، مزار ته کډه شوي وو. ځینې استادان او فرهنګیان لا د دوستم په دربار کې د مقام خاوندان او مقرب هم وو. په مزار کې زما تمه دا وه چې د دوستم په دربار کې د مقام خاوند استادان به، په مزار کې د روسیې له قونسولګرۍ څخه د ویزې په اخستلو کې له ما سره مرسته وکړي،خو...
له هغې ډلې نه یو هم د کابا پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، درې څانګې استاد ضیاالدین ضیأ و. دی په ادبیاتو پوهنځي کې زموږ همکار، زما د ماسترۍ دورې هم صنفي او په دهبورې کې زموږ ګاونډی و. ویل کیده چې دی د خپل ازبک توب پر بنا، د دوستم د واکدارۍ یا ګوند (جنبش ملي) په فرهنګي شورا کې د لوی واک خاوند دی. ده واقعأ کولای شول چې دویزې په اخستلو کې له ما سره مرسته وکړي؛ خو کله مې چې پیدا کړ، مرسته لا څه کوې چې سمې خبرې یې نه کولې.
په مزار کې د روسیې د قونسلګرۍ مخې ته هره ورځ په سل ګونو تنه له جګړې نه تنګ او مجبور افغانان د ویزې د تر لاسه کولو په تمه ښکته پورته کیدل. روسان هم وړې تړې ډالرو ته کیږنګ ناست وو، جاسوسان او دلالان یې لګیا وو په ډالرو یې ویزې خرڅولې. لس ورځې ورته تم شوم، خو څه مې ترلاسه نه کړل.
محب بارش د ادبیاتو پوهنځي د درې څانګې بل استاد و، چې په مزار کې یې لاس چلیده. دا وخت ده له شورای نظار سره همکاري درلوده. د شورای نظار دفتر د روضې په څنګ کې موقعیت درلود، په پوښتنو مې پیدا کړ او ورغلم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره له دې چې له محب بارش نه ډېرو فرهنګيانو سرټکاوه، خو له ما سره يې په هغه حالت او هغه وخت کې ډېره ښه وضعه وکړه.
د روسيې يوه قونسلګرۍ په حيرتانو کې هم وه. دوه ليکونه يې د حيرتانو د واکدارانو په نامه راته وليکل. زه له ليکونو سره حيرتانو ته لاړم، خو زما له بده بخته چې يو واکدار کابل ته تللی و او بل يې مسکو ته په سفر تللی و. بيرته مزار ته نا اميد او تش لاس راستون شوم.
د کارمل د واکدارۍ په دوره کې، پامير جريده چې پخوا د کابل ښاروالۍ نشراتي ارګان و او هغه وخت د کابل ښار حزبي کميټې د خپل خپرنيز ارګان په توګه کاروله، محب بارش د استادۍ تر څنګه يا همکاري ور سره درلوده، يا يې هسې سر ورسره ښوراوه يا به يې په يوه کاسه ډوډۍ ورسره خوړه، زه سم نه ورباندې پوهېدم. ده له ما نه د شخصي اړيکو پر بنا هر کله هيله کوله چې قلمي همکاري ور سره وکړم او د پامير جريدې له پاره پښتو مطالب وليکم. څنګه چې زما تدريسي کارونه او علمي ليکنې ډېرې وې، په دې خاطر مې اخباري ليکنو ته زړه نه ښه کاوه، خو دی به کله نا کله را باندې زورور شو او د خوښې وړ فرهنګي مطالب به مې ورته ليکل او هغه به مې د عمرزاده يا بنګ په مستعار نامه خپرول.
زما خدای بښلي پلارمحمد عمر نوميده، ځکه مې د عمرزاده نوم غوره کړی و، دغه راز زما مشر زوی غمي جان ته به زما مور له نازه بنګوټی ويل، چې په پای کې يې بنګ د کورني نوم ښه غوره کړه، ما هم د خپل زوی کورنی نوم د اخباري مقالو له پاره، د مستعار نامه په ډول غوره کړی و.
کومه ورځ د ښاري کميټې د منشي ظهور رزمجو له غوړه چا تيره کړې وه چې دا بنګ خو د نورمحمد تره کي د بنګ مسافرۍ د ناول قهرمان دی. ظهور رزمجو په همغې ورځې او هماغه ساعت بارش ورغوښتی و، دفتر ته په ننوتلو يې له کومې پوښتنې او سوال ځواب پرته، ورته ويلي و:
«بروتايت، بروتای سګ وارس...»
دا کيسه بارش کتې مټ ما ته وکړه. بارش د خپل ګوندي تعهد پر بنا مجبور و چې خپلې همکارۍ ته دوام ورکړي؛ خو ما خپله قلمي مرسته ور سره ودروله.
جمعه نوپرور د کابل ښار د ګوندي کميټې غړی، د کابل پوهنتون استاد او د کابل د نهمې ناحيې ګوندي منشي هم و. دی په کابل پوهنتون کې د استادۍ په وجه زما همکار و او ترڅنګه يې زما شخصي دوست هم دی.
ده د خپلو ګوندي فعاليتونو يوګزارش غونډې ليکلی دی، نوم يې ورته «ازموج تا طوفان» ايښی دی، چې په ۱۳۸۱ هجري شمسي کال يې خپورکړی دی. په دې کتاب کې جمعه نوپرور دظهور رزمجو د پوهې او پاک نفسي ډېر صفتونه کوي؛ خو که د ظهور رزمجو ژوند او کارنامو ته نظر واچول شي، د صفت يو ټکی به په کې پيدا نه شي.
ظهور رزمجو خپله څه نه درلوده چې خلکو او ټولنې ته يې وړاندې کړي، يوازې يې د خپلې ډلې او ګوندي مشرانو خبرې ديکټې کولې او د کابل په ښاريانو يې تطبيقولې.
موږ يوه ډله ملګري وو. څلور تنه يې د کابل د طب په انستيتيوت کې استادان وو. ډاکتر فدا او ډاکتردين محمد شيرزاده، د فيزيولوژۍ ډيپارتمنت استادان، داود او اصغر د فيزيک ډيپارتمنت استادان، يو هم حاجي عوض فدايي او يو هم زه وم. موږ کله کله شخصي ناستې درلودلې او کله کله به د کابل تفريحي ځايونو، لکه باغ بالا او قرغې ته په چکر وتلو. زما دغه انډيوالان په پټه د کارمل د واکمنۍ او روسانومخالف وو. دوی به هر کله د ټوکو په ژبه د ترانې په ډول څه ويلې چې مخاطب يې کارمل و؛ خو د کارمل نوم يې نه اخسته. د هغه د نامه پرځای يې د «مدير سياه» او«دهن کج» اصطلاحات کارول.
وروسته استاد فدا ځان استراليا ته ويست چې ډاکتر دين محمد شير زاده هم د هغه په پلونو سر شو. استاد داود هند ته لاړ، چې بيا يې موټر ظاهراً له ريل ګاډي سره ټکر او مړشو، خو خلکو ويل چې د ډاکتر نجيب په توصيه وژل شوی دی. حاجي عوض فدايي ته د پلچرخي زندان بورس راغی؛ خو د ټوپکيانو په راتګ سره يې سر د حزب وحدت له ګريوانه را ووت او د رباني جان؟ د واکمنۍ په دوره کې د اطاق های تجارت تر رياست پورې هم ورسيد. پاتې زه او استاد اصغر شوو چې تر ډېرو پورې مو د ټوپکيانو دواک په دايره کې محکوميت تيرکړ.
له مزار او حيرتانو چې نا اميده شوم، بيرته په تش لاس کابل ته ستون شوم. کور ته په رسيدو سره مو وليدل چې د کار وړ شيان او زما کتابتون تالا شوي وو. بيا مې څه فرش او لوښي برابر کړل. ګاونډيانو زه هڅولم چې له وطن څخه د وتلو فکر له سره وباسم، زه هم ناست وم او ټوله ورځ به مو بلنداژ او تاکاو کې تيروله. هره ورځ به د ګلبدين جان؟ آمر صاحب جان؟ مزاري جان؟ او سياف جان؟ د چغل بازيو په لړکې، د راکټونو تبادله وه او موږ يې د دمبورې په اوريدلو او د تلفاتو په قبلولو محکوم وو.
د جګړې ډول هره ورځ غړول کيده؛ خو غږ يې ورځ تر بلې جګيده. نور په دهبورۍ کې ګزران نه کيده، همغه و چې مجبوراً او محکوماً مې ماشومان مکرويانو ته وليږدول. هلته د لطيف لالا کور و. زه خپله بيا يو څو ترپړو او کپړيو ته، چې هغه مې د کور ټوله هستي وه، پاتې شوم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## د وينو ويا له:

زه او ماشومان مې سره جلا شوو، دوی په مکرويانو کې او زه په دهبوري کې. جګړه په هماغه خرپ وخروپ چې ټوپکيانو او د هغو بهرنيو آمرينو غوښته، روانه وه. کله به چې د راکټونو باران زور واخست، زموږ د کورونو له شا و خوا څخه د وحدتي ټوپکيانو د راکټونو فير او د آسمايي د غره له څوکو د قهرمان؟ د راکټونو او د توپ د مرميو راتګ او لګيدلو يوه خاصه زلزله جوړوله، نو موږ به بلنداژ ته ښکته شوو. زموږ يو ساده غونډي ګاونډی و، هغه به ويل:

«ورته ګورو به، کيدای شي څه موده وروسته د جګړه مارو وسلې خلاصې شي.»

هغه ساده ګی په دې نه پوهيده چې اول خو افغانستان په يوه سلاح کوټ بدل شوی، او بل دا چې له ګاونډيو هيوادونو څخه دد نيابتي جګړې له پارهد سلاح کاروانونه داسې را روان دي، لکه د رواني مستې ويالې اوبه.

زموږ ګاونډيو هيوادونو د همژبتوب، ګډ کلتور او ګډ دين تر نامه لاندې، زموږ د وطن او خلکو د بربادۍ له پاره داسې متې رانغښتې وې چې زړی مو په خاوره کې راته وچوي او نوی نسل مولا د موږ په نس کې له منځه وړي.

داسې ورځ راغله چې تا به ويل کورونه، سمه او غر په بل مخ اوړي. د کابل په دهمزنګ کې د شورای نظار د ليوانو او وحدتي وحشيانو تر منځ د عبدالوکيل خان د څلي (د دهمزنګ منار) او بريکوټ سينما په شا و خوا کې مخامخ مقابله پيل شوه. وحدتيان وتوانيدل چې يادې شوې سيمې له شورای نظار او جميعت څخه په خپله ولکه کې راولي.

بله ورځ چې دا مقابله پای ته ورسيده،ميرمن مې له ډير تشويش نه پای پياده له مکرويانو څخه زما د احوال اخستلو له پاره دهبوري ته ځان را ورساوه. ما چې حالات خراب ليدل، دا مې په بايسکل کينوله او بيرته مکرويانو ته وخوځيدو. په همدې ورځ مې د بريکوټ سينما په مخ کې د وينو ويالې وليدلې. د سرک په سر د انسانانو زښته ډيرې وينې توی شوې وې، باران اوريده، د باران له اوبو سره وينې ويالې ته روانې وې، د ويالې اوبو د وينو رنګ اخيستی و او ويالې له وينو ډکه بهيده.

له دهمزنګ نه تر ميرويس ميدان پورې غځيدلي واټ باندې د بريکوټ سينما نه په تيريدو سره د کارتې سخي خوا ته يو واټ ور ګرځيدلی دی چې سرک اول يې بولي، دلته به وحدتي ټوپکيان ولاړ وو، هر چا نه به يې د ژبې او قوم پوښتنه کوله.

د سياف جان؟ له برکته د وحدتي ځناورو يوازې پښتانه په کاروو، هر چا به ويل چې زه تاجک او دري ژبی يم. وحدتيانو د امتحان له پاره يو کورت په لاس کې نيولی و. هر چا باندې به چې اشتباهي شول، نو کورت به يې ور وښود چې دا څه شی دی. ډيری پښتانه د دري ژبې قوروت نه شي تلفظ کولای، نو قوروت ته به يې کوروت ويل؛ چې څنګه به چا کوروت و ويل، بيا به غړ وشو:

« ببرش، خودش اس!»

له دهبوري نه تر مکرويان پورې لار زما د هرې ورځې د تګ راتګ مزل و، هره ورځ له دې ممتحنينو سره مخامخ کيدم او هر ځلې له دې آزموينې بريالی تير شوی يم. ما به ځان دري ژبی، شيعه او د غزني اوسيدونکی معرفي کاوه. يوه ورځ يې له امتحان نه وروسته را ته و ويل:

«خو اګه تو راستي شيعه استي، نام دوازده امام چيبه؟»

دا مې هم ورته تيرکړل، بيا نو ممتحن غړ وکړ:

«از خودس!»

چا چې د قوروت په ځای کوروت ويلي و، ټول يې مخامخ د څلورمې کارتې د سوريا ليسې ته بوتلل. دا زما د سترګوليدلی حال دی چې ډله، ډله پښتانه يې سوريا ليسې ته ننه ايستل.

د سوريا ليسې ودانۍ يوه زړه ودانۍ وه چې ډير لرګي په کې کارول شوي وو. چت، غولۍ،کړکۍ، زينې، دروازې دا ټول له لرګيو جوړشوي وو. زه په خپل کور دهبوري کې وم، په خپلو سترګو مې انسانانو ته اور اچول نه دي ليدلي، خو مازديګر مهال و چې په کارتې چهارکې د سوريا ليسې له سيمې څخه توري لوخړې پورته شوې. د دې ورځې په سبا د سيمې خلکو ويل چې د سوريا ليسې صنفونه له انسانانو ډک وو او وحدتي ټوپکيانو اور ورته واچاوه. په کوټو کې د اور په دايره کې بندو انسانانو له ماتو کړکيو نه سرونه را ايستلي وو او چغې يې وهلې چې:

د خدای په لحاظ زموږ ګناه څه ده چې موږ ژوندي سوځوئ؟

په دې ډول يو شمير بې ګناه پښتانه د سياف جان؟ د ړيرې د تارونو نذرانه او د وحدتي ټوپکيانو د غچ اخيستنې او وحشت په اور کې نيني شول.

وروسته د همدغو وحشي ټوپکيانو د نامقدسو وحشي پلانونو له مخې کله چې د شورای نظار، جميعت او اتحاد اسلامي ايله جاريانو له خوا دغچ اخيستنې په لړ کې د کابل د سيلو پر افشارو چې د وحدتي ټوپکيانو پايګاه وه، يرغل وشو. دا وخت زه په دهبوري کې وم، د افشارو سيمه مونه شوه ليدلای، د پوليتخنيک تر شا د غره پر سر يو زيارت و، په دې زيارت کې وحدتي ټوپکيانو يوه پوسته جوړه کړې وه. دا پوسته د بادام باغ له خوا د جميعت قومندان، انور ډنګراو له پغمان څخه د سياف افرادو تر اورلاندې نيولې وه. موږ يوازې د دې صحنې ننداره کولای شوه او د ډزو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

غړمو اوریده. او په پای کې متحدینو وکولای شول چې د سیلو په افشارو کې د وحدتي وحشیانو د مرکز د ساتني کمربندونه مات کړي او وربانديې برلاسي شي.
په دې یرغل کې په عادي هزاره ګانو، بې طرفه شیعه مذهبو، بوډاګانو، ښځو او حتی ماشومانو باندې هم زړه سوی و نه شو او د وحشي یرغلګرو وحشت یې په نوې بڼه، د نویوسلاګانو په وسیله تکرارکړ.
په دې وژنو کې د بوش ډوله امریکایي دیموکراسی د باور وړ کسانو لکه:
آمر؟مسعود، فهیم، سیاف، عبدالله، یونس قانوني او نوروغټو او وړو واکدارانو او قومندانانو نیغ په نیغه لاس درلود، او د اعمالو مکافات یې لوړې څوکې، بې شمیره ډالر او په هیواد دننه او بهر کې بې شمیره جایدادونه دي.
د همدې جنګي جنایتونو ښکاره او مشهود عاملین په ولسي جرګه کې ناست دي، د رئیس جمهور معاونین هم دي.
عبدالله جان؟ خو یې لا د بهرنیو چارو وزارت له امتیاز نه بر سیره د ریاست جمهوري او د ملت د رهبری دعوا هم کوي، اوس هم برند ګرځي، د امریکا او اروپا په سفرونو نه مړیږي.
د اوریدو له قراره سیاف جان؟ په افشارو کې کانتینرونه له وحدتي ټوپکیانو، عامو هزاره ګانو او شیعه مذهبونه ډکول او دلاریو په وسیله یې تر پغمانه پورې کشول. داسې هم ویل کیدل چې کانتینرونه یې له انسانانو ډکول او بیا یې په سرشانه یې راکټ باندې ویشتل.
خو نن سیاف جان؟ او محقق جان؟ د بوش ډوله امریکایي ډیموکراسی له برکته په غیږو ستړي مه شي سره کوي او په انتخاباتوکي د یو بل په ګټه له خپلو رایو هم تیریږي. ما په خپله یوه قصیده کې دغې دښمنۍ او دوستۍ ته، چې د زرګونو بیګناه افغانانو د وژنو او مهاجرت په بیه تمامه شوې ده، داسې اشاره کړې ده:

**...سیاف ویلې مرغانچې هم ورانومه**
**پاتې نه شي به ودان دا مکرویان**
**بیا یې بډ وهلې متې تر څنګلو**
**چې ترتیغ تیرکړي هزار،هزاره ګان**
**نویې ویست هزارې ته له پایڅې نه**
**هزارې هم زړګی سوړکړپراوغان**
**یو وخت تږي وو ووینې د یو بل ته**
**نو یې قتل کړل سلګونه هزاران**
**خواوس وایي خبرنه یوموږله جنګه**
**ښایي کړي وي جګړه کوم قوموندان**
**اوس دي خره دیوه بارپه یوآخوردي**
**وایې دغسې دوستي وي جاویدان...**

د اوومې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ